# مطبوعاتي اعلاميه

## هندو چارواکي د ۱۹۶۷م ظالمانه قانون له لارې اسلام او مسلمانان، په ځانګړې توګه د حزب‌التحریر شباب تر بریدونو لاندې نیسي!

## (ژباړه)

د هند ملي تحقیقاتي ادارې (NIA) د حزب‌التحریر پر ضد د خپلو بریدونو په دوام، بافا بحرالدین او کبیر احمد علی‌یار د ۲۰۲۵م کال، د فبروري په ۳مه تر څو میاشتو څورونې وروسته ونیول. د هندي رسنیو د راپور له مخې، دوی «له نورو سره په ګډه هڅه کړې چې د حزب‌التحریر، چې یو منع شوی سازمان دی، اصول او مفکوره په تامیل ناډو ایالت کې ترویج کړي.» وروسته، چارواکو د دوی دوسیه د ډاکټر حمید حسین له روانې دوسیې سره، چې د ۱۹۶۷م د غیرقانوني فعالیتونو د مخنیوي قانون (UAPA) پر بنسټ ده، یو ځای کړه.

خو ډاکټر حمید حسین د میخانیکي انجینرۍ په برخه کې دوکتورا لرونکی او د ټولنې یو درووند غړی دی. دی د ۲۰۲۴م کال، په مې میاشت کې یوازې د دې لپاره ونیول شو چې د اسلام له نظره یې د ډیموکراسۍ رد، د خلافت دولت د عدالت مفهوم او د اقلیتونو او د «دالیت» ټولنې د محرومو طبقو لپاره د اسلامي حل‌لارو په اړه خپل نظرونه څرګند کړي وو. سره له دې چې نظرونه یې مثبت او رغنده دي، دی د ۱۹۶۷م د غیرقانوني فعالیتونو د مخنیوي قانون له مخې د یوې مهمې دوسیې اصلي تورن بلل کېږي!

دغه قانون یو ظالمانه قانون دی چې هندو حکام یې د خلکو د ځپلو او د حساب ورکولو د مخنیوي لپاره کاروي. دا یو داسې قانون دی چې پکې توقیف او محاکمه، پخپله د سزا او شکنجې پروسه ده. دغه حقیقت د محکومیت له ټیټې کچې څخه ښکاري چې یوازې ۲٪ دی. د ۲۰۱۶م او ۲۰۲۰م ترمنځ، د دغه قانون پر بنسټ د ۲۴۱۳۴ کسانو پر ضد ۵۰۲۷ دوسیې ثبت شوي، چې له دې ډلې یوازې ۲۱۲ تنه محکوم شوي او ۳۸۶ تبرئه شوي دي. یعنې له ۲۰۱۶م تر ۲۰۲۰م پورې، نږدې ۹۷.۵٪ نیول شوي کسان پرته له محاکمې په زندان کې پاتې شوي دي! ایا دا تیاره سابقه د دې ظالمانه قانون د لغوه کولو لپاره بسنه نه کوي؟

سره له دې، هندو حکامو د ۲۰۱۹م کال په جنورۍ میاشت کې د UAPA د قانون د تعدیل طرح وړاندې کړه، چې حالات یې نور هم خراب کړل. دغه تعدیل مقاماتو ته اجازه ورکوي چې پرته له قانوني محاکمې، خلک "ترهګر" وبلل شي، چې دا عمل د فرد د ټولنیزې انزوا، د کار د له لاسه ورکولو او بې‌عدالتۍ لامل کېږي. نه دا تعدیل او نه هم اصلي قانون، د «ترهګرۍ» لپاره کوم واضح تعریف وړاندې کوي، له همدې امله، دغه قانون د حکومت لپاره د خلکو د وېرولو او د عامه نظم د ساتنې په پلمه د ظلم لپاره د سپین چک حیثیت لري. دغه ظلم له هغو استعماري قوانینو سره سیالي کوي چې د انګلیسي اشغالګرو له لوري په هند کې نافذ شوي وو.

**هندو حکام په ۲۰۱۹م کال کې د UAPA له تعدیل څخه د هند پر مسلمانانو د وېرې خپرولو لپاره کار اخلي.**

کله چې مسلمانانو د ۲۰۱۹م کال د تابعیت د تعدیل قانون پر ضد اعتراض وکړ، هندو حکامو یې په ځواب کې مسلمان محصلان، فعالان او ان یوه امېندواره ښځه د UAPA قانون له مخې ونیوله. ډېر مسلمانان تر اوسه هم بې‌محاکمې بندیان دي. بیا د ۲۰۲۴م کال په اکتوبر میاشت کې، د هند حکومت په رسمي جریده کې اعلان وکړ چې د ۱۹۶۷م د غیرقانوني فعالیتونو د مخنیوي قانون له مخې، حزب‌التحریر منع شوی دی.

**اې د هند خلکو او په ځانګړي ډول د بشري حقونو فعالانو او سازمانونو!**

هندو حکامو تاسو ته بربادي، فقر، ناامني، تبعیض، بې‌عدالتي او ټولنیز اختلافات دربښلي دي. بیا، کله چې له تاسو څخه یو څوک د خپل حق لپاره غږ پورته کړي، نو د همدغو ظالمو چارواکو له لوري مجازات کېږي. ایا دا هماغه څه دي چې ستاسو پلرونو د استعمار پر ضد د مبارزې پر مهال تصور کړي وو؟ ایا دا هغه نمونه ده چې غواړئ نړیوالو ته یې وړاندې کړئ؟ هېڅ قانون، نه الهي او نه هم بشري، دا ډول ظلم منلی نه شي.

**اې د هند خلکو!**

د ظلم پر وړاندې چوپتیا، ظالم ته د ظلم د دوام جرات ورکوي، خو د هغه پر وړاندې درېدل، د ظلم د پای پیل دی.

**اې د هند مسلمانانو او په ځانګړي ډول د مسلمانانو علماوو!**

شاوخوا خلکو ته وګورئ، د دوی فقر، بدبختي او کړاوونه وګورئ. ایا ستاسو دین تاسو ته د دوی په اړه مسوولیت نه دی در په غاړه کړی!؟ الله سبحانه وتعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم د ټولې نړۍ لپاره د رحمت په توګه رالیږلی دی.

ستاسو پلرونو له سلګونو کلونو راهیسې د اسلامي عدالت پر بنسټ په هند کې حکومت وکړ او خلکو ته یې هغه امنیت او سوکالي ورپه برخه کړه چې نه تر اسلام مخکې تجربه شوې وه او نه هم تر هغه وروسته. نن ورځ یوازینۍ حل‌لاره چې د هند خلک د سیکولر نظام له ظلم څخه ژغورلی شي، اسلام دی.

ایا دا سمه ده چې ستاسو توجه یوازې د دغه ظالم نظام په دننه کې محدودې ونډې ته وي او یوازې د خپل فردي راحت لپاره هڅه وکړئ؟ ایا دا مناسبه ده چې د پارلمان د څو څوکیو ترلاسه کولو لپاره سیالي وکړئ، په داسې حال کې چې باید د اسلام د حاکمیت لپاره کار وکړئ؟ ایا دا سمه ده چې ظالمان د اسلامي دعوت د خاموشه کولو هڅه کوي او تاسو چوپ پاتې شئ؟

تاسو نه کمزوري یاست، نه مو شمېر کم دی؛ بلکې که له خپل دین سره ټینګه اړیکه ونیسئ او پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړئ، نو غښتلي او ځواکمن به شئ. یوازینی پیغام چې تاسو به متحد کړي او د داسې ځواکمن بدلون سبب به شي چې هند ورته سخته اړتیا لري، د اسلام پیغام دی. **اې د هند مسلمانانو! را پاڅېږئ، ځکه الله سبحانه وتعالی له تاسو سره دی.**

**﴿يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾ [توبه: ۳۲]**

**ژباړه:** *«دوی غواړي چې د الله تعالی نور په خپلو پوکیو سره مړ کړي. خو الله تعالی خپل نور حتما بشپړوي،که څه هم چې دا کار کافران نه خوښوي.»*

**د حزب التحریر. مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د شعبان ۱۸مه**

**۲۰۲۵ م کال، د فبروری ۱۸مه**

**ژباړن: اسرارتکل**